# شتمني
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

پنجشنبه | د شعبان المعظم ۱۹ - ۱۴۴۵ال س/ د کب ۱۰ - ۱۴۰۲ال ل/ د فبروری ۲۹ - ۲۰۲۴ز/دوهم کال / ۸۹ گڼه/ ٤ مخیز




**په ایمان کې د نقصان پیدا کوونکي اعمال او اخلاق**

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې د يو ظالم د مرستې لپاره روان سي او دی په دې پوهېږي، چې دا ظالم دئ؛ نو په تحقيق سره له اسلامه ووتی. [رواه البيهقي في شعب الايمان (ص: ۱۲۲ ج: ٦ شان الحديث (۷٦۷۵)]

**اعمال و اخلاق که موجب نقصان در ایمان می شود**

نبی کریم صلی الله علیه وسلم می فرماید: وقتی یک شخص برای کمک به ظالم حرکت کند و بداند که این یک ظالم است؛ پس به تحقیق از اسلام خارج شد. [رواه البيهقي في شعب الايمان (ص: ۱۲۲ ج: ٦ شان الحديث (۷٦۷۵)]

## سر مقاله

### مرور بر وضعیت اقتصادی جامعه افغانستان

حکومت ها نقش مهمی را در ایجاد شرایط مناسب برای توسعه و تقویت فعالیت های اقتصادی، بهبود وضعیت اجتماعی، فرهنگی، تنفیذ قوانین، مقررات، پالیسی ها، استراتیژی ها و حمایت از تشبثات خصوصی به طور آگاهانه، جهت بستر سازی زمینه کار به اقشار مختلف جامعه برای ایجاد انکشاف تجارت، سرمایه گذاری و شاخص های مهم اقتصادی را طرح ریزی نموده است. به همین دلیل، مرور بر وضعیت اقتصادی افغانستان بین سال های (۲۰۰۵ تا ۲۰۱۳م) شاهد فیصدی رشد اقتصادی بالایی بودیم که عامل عمدهٔ آن کمک های بین المللی و موجودیت منابع وافر مالی، تعهدات شرکای بین المللی را در امر تقویت و انکشاف فعالیت های اقتصادی این کشور را تشکل داده بود، در آن مرحله رشد اقتصادی در سطح کل به (۹٪) افزایش یافته بود، عاید سرانه هر خانواده افغان به(٦۲۵) دالر تخمین گردیده بود و سطح افزایش را در آن دوره نشان می دهد. باید توجه داشت، شرایط اقتصادی و اجتماعی افغانستان در آن زمان تغییر زیاد کرده بود، در سال (۲۰۱۴) عاید سرانهٔ مردم افغانستان به (۵۲۰) دالر کاهش یافت، این کاهش در نتیجه‌ی بی اعتمادی میان شرکای بین المللی و حکومت وقت، فساد گسترده، بی باوری ها میان حکومت مشارکتی، برخورد ثلقوی حکومت وقت بوجود آمده بود.

تحقیق و تحلیل یافته ها نشان میدهد که عامل اصلی بحران از شروع سال (۲۰۱۴) و ادامه آن تا سال (۲۰۲۱) بوده و زمینه را برای کاهش شدید کمک های بین المللی، مسدود شدن دارایی های بانک مرکزی، اختلال در روابط بین المللی بانکی، بی اعتمادی سرمایه گذاران، چالش ها را در محور اصلی اقتصاد و تأثیرات نامطلوب آن بر اقتصاد کشور، کاهش عاید سرانه هر فرد، رکود تولیدات ناخلص داخلی، توزیع ناعادلانه در آمد، وضعیت اشتغال زایی، عدم مدیریت مناسب اقتصادی، نبود تحلیل دقیق از وضعیت و شرایط اقتصادی و سایر عوامل اقتصادی و تولیدی را در بر گرفته و منجر به کاهش اشتغال زایی و کاهش در آمد خانواده های افغانستان گردیده و وضعیت اقتصادی جامعه افغانستان را به بحران اقتصادی، انسانی و اجتماعی سوق داده است.

تأمین موجودیت امنیت سرا سری در کشور، میتواند ضامین فزایندهٔ اقتصادی و مصؤنیت غذایی افغانستان را روی صفحهٔ جدید فرصت ها باز نموده، برای جلب و جذب دوباره شرکای بین المللی اعتماد سازی نماید. با آمدن این فرصت ها چالش های موجوده کاهش یافته، مشکلات مختلف اقتصادی جامعه را تحت تأثیر فعالیت های اقتصادی پیش بینی شده قرار داده، توزیع در آمد، وضعیت اشتغال زایی، با تلاش های مفید میتواند حد مطلوب را برای پایداری و بهبود مدیریت مناسب اقتصادی و ساز گاری شرایط اقتصادی جامعه، جهت دریافت راه حل معقول سوق دهد.

نتیجهٔ گیری این اداره نشان مید هد که این کشور در موقعیت اساس و نقطه جیو استراتیژیکی مهمی قرار دارد که آسیای شرقی، آسیای جنوبی، آسیای غربی و آسیای میانه را به هم وصل نموده و مسیر تجارت جهانی را تغییر می دهد. رهبری و مدیریت قوی حکومت امارت اسلامی افغانستان، کنترول و حفظ ثابت نگهداشتن پول افغانی در برابر اسعار خارجی طی دوسال گذشته، جهت جلو گیری از قاچاق صادرات ارز به خارج کشور، ثبات پول افغانی را در مقابل اسعار خارجی و ثبات بازار های اقتصادی افغانستان را تحت کنترول قرار داده است. کمک های دوباره سازمان ملل متحد و بانک جهانی به افغانستان طی سال (۲۰۲۳) و کنترول قوی حکومت امارت اسلامی افغانستان توانسته است صادرات غیر قانونی اسعار خارجی را مدیریت نموده و نوسانات بازار را در حصه قدرت خرید کالا های مورد نیاز مردم و جامعه افغانستان به صورت کل کنترول و حفظ نماید.

**با احترام**

**اداره**

## د هیواد له گمرکونو څخه په ورځني ډول زرگونه، صادراتي، وارداتي او ټرانزيټي محمولې تگ راتگ کوي



د ماليې وزارت له لوري د هیواد په ټولو گمرکونو کې سوداگرو ته د پام وړ اسانتیاوې رامنځته سوې دي. په گمرکونو کې کاري موده له (۱٦) څخه تر (۲۴) ساعتونو پورې زیاته سوې، عصري برېښنایي سیستمونه فعاله سوي، د بهرني ټرانزیټ زماني معیاد له (۵) ورځو څخه (۱۰) ورځو ته غځول سوی او د سوداگریزو توکو په طی مراحلو کې روڼتیا او لازمه چټکتیا رامنځته سوې، چې ورسره د صادراتو، بهرني ټرانزیټ او وارداتو په کچه کې هم د پام وړ زیاتوالی راغلی دئ. پر همدې بنسټ، د هیواد له ټولو گمرکونو څخه په اوسط ډول د ورځې نږدې (۲۴۰۰) صادراتي، وارداتي او ټرانزيټي محمولي تگ راتگ کوي، چې له دې شمېر څخه په ورځني ډول، نږدې (۱۸۸۰) وارداتي، څه کم (۴۳۰) صادراتي او نږدې (۱۰۰) بهرنی ټرانزیټي محمولې تگ راتگ کوي، چې ټولیز وزن ئې څه باندې (٦۰) زره ټنو ته رسېږي. د یادونې وړ ده، چې د ماليې وزارت له لوري د گمرکونو د عصري کولو په لړ کې به ډېر ژر د هیواد په (۱٦) گمرکونو کې (۲۴) لویې پایې برېښنایي سکنرونه هم نصب سي، چې ورسره به د سوداگریزو توکو په طي مراحلو کې لا ډېره روڼتیا، چټکتیا او ښه والی رامنځته سي.

## د ماليې وزارت او د ازموینو ملي اداري ترمنځ د ازموینو اخیستلو هوکړه لیک لاسلیک سو

د ماليې وزارت له لوري د مسلکي اشخاصو د گومارني، کار اهل کار ته د سپارلو، د ازموینو په پروسه کې د بشپړې روڼتیا او عدالت د رامنځته کولو او د یوې تل پاتي مسلکي اداري د جوړولو په موخه؛ د دغه وزارت په بېلابېلو بستونو کې د گومارنو لپاره د ټولو ازموینو د اخیستلو هوکړه لیک، د ازموینو له ملي اداري سره لاسلیک سو. د رښو او مسلکي ازموینو د اخیستلو له دغه هوکړه لیک سره به، له دې وروسته په ماليې وزارت کې د گومارنو ټولې ازموینې د یادې اداري له لوري په معیاري، مسلکي او ښه ډول سره اخیستل کېږي. د یادونې وړ ده، چې د ریاست الوزرا د عالي مقام له حکم سره سم، د ازموینو په پروسه کې د روڼتیا او دقت په موخه، ټولي دولتي اداري باید د گومارنو اړوند ټولي ازمویني د ازموینو ملي اداري په همکارۍ سره ترسره کړي.

## له دې وروسته د حیرتان په سرحدي گمرک کې اوړه، غنم او د مسافرینو انفرادي توکي هم محصولېږي

د گمرکونو لوی ریاست رهبرۍ پرېکړه وکړه، چې د سوداگرو په غوښتنه دوی ته د لازمو اسانتیاوو رامنځته کولو او د گمرکي پراوونو د چټکتیا په موخه له دې وروسته د حیرتان په سرحدي گمرک کې اوړه، غنم او د مسافرینو انفرادي توکي هم محصول کړل سي. د همدې موخې د عملي کولو لپاره د حیرتان په سرحدي گمرک کې د یادو توکو د محصول لپاره د اسیکوډا سیستم فعاله سوی، سوداگر او مسافرین کولای سي، چې خپل یاد سوي توکي په دې گمرک کې محصول کړي. له دې وړاندې د حیرتان په سرحدي گمرک کې یادو توکو ته د کورني ټرانزیټ فورم (T1) جوړېده، سوداگر او مسافرین مکلف ول، چې د خپلو توکو د محصول لپاره د بلخ محصولي گمرک ته مراجعه وکړي. د یادونې وړ ده، چې سوداگرو دغه غوښتنه بلخ ولایت ته د گمرکونو لوی رئیس د وروستي سفر پر مهال کړې وه، چې د گمرکونو لوی ریاست له لوري ئې غوښتني ته لبیک وویل سو.






د ماليې په وزارت کې د مراجعینو ۴۰۱۰ بېلا بېلو مسایلو ته رسېدنه سوې ده

م ۲



د ماليې وزارت یو شمېر ریاستونو ته نوي رئیسان ور معرفي سول

م ۲



د اسلامي امارت یوه گډ تخنیکي پلاوي د سوداگرۍ د پراختیا په موخه ایران ته سفر وکړ

م ۲



تېره اوونۍ د یو شمېر ولایتونو په ځینو سیمو کې قاچاقي توکي نیول سوي

م ۲



صادرات اموال تجارتی افغانستان، نشان دهنده میزان پیشرفت اقتصادی، تولیدی وقدرت تعاملات تجارتی با سایر کشور های جهان

م ۳




د افغانستان او پاکستان ترمنځ بندر تر (۵) میاشتو وروسته بیا پرانیستل سو

م ٤

شتمنۍ SHTAMANI
اوونیزه



# د ماليې په وزارت کي د مراجعينو ۴۰۱۰ بېلا بېلو مسايلو ته رسېدنه سوې ده

د ماليې وزارت د هېواد يو له مهمو وزارتونو څخه شمېرل کېږي او په ملي کچه مهمي مالي چاري ترسره کوي، چي په ورځني ډول ورته زرگونه هېوادوال د اړوندو ستونزو د حل په موخه مراجعه کوي. د مقام پذيرش (د مراجعينو د منلو لوی مديريت) چي د وزارت له رهبرۍ سره د ليدنو د برابرولو او عريضو د ثبت او حکم اخيستلو په برخه کي کار کوي؛ په روان (۱۴۰۲) مالي کال کي ئې د مقام اړوند مراجعينو (۴۵۰۰) عريضې ترلاسه کړي، چي له دې شمېر څخه ئې (۴۰۱۰) بېلا بېل مهم مسايل د وزارت له درانه مقام سره شريک کړي او د حکم له اخيستلو وروسته ئې اړوندو برخو ته د نورو اجراآتو په موخه سپارلي دي.
له هيوادوالو څخه په ترلاسه سوو عريضو کي، د ملکيتونو د قراردادونو، کرايو، د تأميناتو او تضميناتو د ترلاسه کولو، د ماليې د بيا کتني، د مالياتو د قسط، د دوکانونو د کرايو کمولو او اړوندي نوري برخي شاملي دي، چي له ثبت، دقيقي ارزوني او احکامولو وروسته د وزارت اړوندو رياستونو ته د وروستيو اجراآتو په موخه سپارل سوي دي.



سر بېره پر دې، د دغه مديريت د (۱۱) فعاله غورفو د کارکوونکو په لارښوونه، هره ورځ زرگونه مراجعين خپل موضوعات د وزارت له اړوندو رياستونو سره شريکوي.

# د اسلامي امارت يوه گډ تخنيکي پلاوي د سوداگرۍ د پراختيا په موخه ايران ته سفر وکړ

د صنعت او سوداگرۍ وزارت په مشرۍ د ماليې وزارت، رياست الوزراء اقتصادي معاونيت، د ټرانسپورټ او هوايي چلند او بهرنيو چارو وزارت د استازو په گډون؛ يوه تخنيکي پلاوي د ايران اسلامي جمهوريت ته رسمي سفر وکړ. ياد پلاوی به د ايران اسلامي جمهوريت له مسؤلينو سره د چابهار بندر امکاناتو او ظرفيت ته په کتو، د دواړو هيوادونو ترمنځ د سوداگريزو او ټرانزيټي چارو د پراختيا او دغه هيواد ته د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال د وروستي سفر په لړ کي د هوکړه سوو



موضوعاتو پر عملي کولو بحث او خبري وکړي. هېره دي نه وي، چي افغانستان او د ايران اسلامي جمهوريت د گډي پولي په لرلو سره کلونه -کلونه اقتصادي، سوداگريزي او فرهنگي اړيکي لري او په دې وروستيو کي د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند، دغه هيواد ته رسمي سفر کړی وو، چي موخه ئې د دواړو هيوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداگريزو اړيکو لا پياوړي کول او همداراز د چابهار بندر له لاري د افغان سوداگرو د مالونو لېږد او له دغه بندر څخه سالمه گټه اخيستل وه.

# د ماليې وزارت يو شمېر رياستونو ته نوي رئيسان ور معرفي سول



د ماليې وزارت په وړانديز او د رياست الوزراء عالي مقام د هدايت پر بنسټ، چي په چارو کي لا ښه پرمختگ راسي او د وړ کسانو له کاري تجربو څخه په سمه توگه گټه واخيستل سي، د يو شمېر رياستونو لپاره نوي رئيسان پر دندو وگومارل سول. په دغو نويو رئيسانو کي، قاضي نعيم الدين عمر، د تقاعد خزينې د لوی رئيس په توگه، اسدالله ساجد خبيب د مرکزي زون د عوايدو د رئيس په توگه، محمد هاشم هاشمي د املاکو د لوی رئيس په توگه او حاجي احمد سعيد انصاري د بيمې او تکافل چارو د لوی رئيس په توگه گومارل سوي. د يادوني وړ ده، چي پورته ټاکني د ماليې وزارت د رهبرۍ د اړين لزوم ديد او وړانديز سره سم، د رياست الوزراء د درانه مقام د حکم پر بنسټ ترسره سوي دي.

# د عوايدو لوی رياست د سيستم په برخه کي د هيواد ۳۴ ولايتونو د مستوفيتونو ستونزو ته رسېدنه کوي


د عوايدو لوی رياست اړوند د سيستم رياست غواړي، چي د هيواد په (۳۴) ولايتونو کي د (SIGTAS او RIMS) سيستمونو په برخو کي د مستوفيتونو د کارکوونکو د ظرفيت لوړوني او ستونزو د حل او هيوادوالو ته د ښه خدمتونو وړاندي کولو په موخه روزنيز پروگرامونه ترسره کړي، چي له دې ډلي ئې په باميان، غزني، سمنگان او خوست ولايتونو کي دغه روزنيز پروگرامونه تر سره کړي دي.
د يادوني وړه ده، چي د عوايدو لوی رياست اړوند د سيستم رياست په مرکز کابل کي هره مياشت د سيستم په برخه کي د ټليفون او ارتباطي شبکو له لاري شاوخوا د (۳۰۰۰) ماليه ورکوونکو ستونزي حل کړي دي.



# د عوايدو لوی رياست د باميان ولايت د مستوفيت کارکوونکو ته د سيستم په برخه کي ۱۵ ورځنی روزنيز پروگرام جوړ کړ

د عوايدو لوی رياست اړوند د سيستم رياست د تحليل او تطبيق آمريت تخنيکي همکارانو د باميان ولايت مستوفيت کارکوونکو ته د دوی د ظرفيت لوړوني په موخه د(SIGTAS_RMIS_TAIS) سيستمونو په برخه کي (۱۵) ورځنی روزنيز پروگرام جوړ کړ .

د باميانو ولايت د مستوفيت کارکوونکي دغه روزنيز پروگرام ارښتمند گڼي او وايي، چي په دې سره به د دوی ستونزي په دغه برخه کي حل سي او مراجعينو ته به هم په يادو برخو کي لا ښه خدمتونه وړاندي کړي .



# تېره اوونۍ د يو شمېر ولايتونو په ځينو سيمو کي قاچاقي توکي نيول سوي



په تېره يوه اوونۍ کي د کندهار، هرات او نيمروز گمرک د گرځنده څارني ځيرکو کارکوونکو د يادو ولايتونو په بېلابېلو سيمو کي يوه اندازه قاچاقي توکي نيولي دي، چي ډېره برخه ئې انساني او حيواني درمل تشکيلوي. په دې نيول سوو توکو کي (۴۶۵٦) کيلو گرامه بېلابېل ډوله انساني طبي درمل، (۱۷۸۰) کيلو گرامه حيواني درمل، (۱۲) کارټنه نشه يي ممنوعه درمل او (۳۷۰۰) کيلو گرامه ټوکر شامل دي، چي قاچاقچيانو غوښتل په قاچاقي ډول ئې هيواد ته راوړي. نيول سوي توکي، چي زياته کچه ئې د کندهار ولايت په ځينو سيمو کي ترلاسه سوي دي، د نورو اجراآتو لپاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي. په هيواد کي د نا قانونه او بې کيفيته درملو د مخنيوي په برخه کي اسلامي امارت ټولي هڅي ترسره کوي، چي د دا ډول نا قانونيو مخه ونيسي او د معياري خدماتو زمينه برابره کړي، له همدې کبله د ماليې وزارت د گمرکونو د گرځنده څارني کارکوونکي تل په دغه ډول بې قانونيو برلاسه سوي او مجرمين ئې اړوندو ارگانونو ته سپارلي دي.

# د تورخم په گمرک کي د (٦٧) کيلو گرامه قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو د قاچاق کېدو مخه ونيول سوه



د تورخم گمرک د دروازو لوی مديريت کارکوونکو په دريو صادراتي محمولو کي د (٦٧،٢) کيلو گرامه په اندازه د قيمتي او نيمه قيمتي قاچاق کېدونکو ډبرو مخه ونيوله. دغه قيمتي او نيمه قيمتي ډبري، چي په ډېر مهارت سره په بار وړونکو موټرونو کي ځای پر ځای سوي وې او قاچاق کوونکو غوښتل، چي په پټه ئې پاکستان ته ولېږدوي. د يادوني وړ ده، چي اوس مهال د هيواد په ټولو گمرکونو کي له قاچاقي او ممنوعه توکو څخه په جدي ډول څارنه کېږي او چاته اجازه نه ور کول کېږي، چي لېږد او را لېږد ئې ترسره کړي.

شتمنی SHTAMANI اوونیزه

# صادرات اموال تجارتی افغانستان، نشان دهنده میزان پیشرفت اقتصادی، تولیدی و قدرت تعاملات تجارتی با سایر کشور های جهان

دوکتور محمد اکبر نادرپور
آمر ارتباطات استراتیژیک با تمویل کننده گان، وزارت مالیه

افغانستان کشوری است دارای موقعیت جیو پولیتیک در منطقه و یک کشور مهم در میان کشور های آسیایی، با داشتن حیثیت پل ارتباطی در مسیر ترانزیتی و تجارتی میان شرق و غرب و یکی از کلید های موفقیت در انکشاف فعالیت های تجارتی و اقتصادی کشور های منطقه به شمار میرود. کشوری سر شار از منابع طبیعی، تولیدی و اموال تجارتی در عرصه پیشرفت اقتصادی، تعاملات تجارتی، بر قرار موازنه تجارتی، تعادل اقتصادی، تأمین در آمد اسعاری کشور، تأمین و تحکیم روابط با جهان در امر اجتناب ناپذیری هرگونه روابط تجارتی برای صادرات محصولات و اموال تجارتی به منظور نشان دادن قدرت و ظرفیت تولیدی اموال با ارزش اقتصادی در



عرصه تجارت با جهان می باشد.

صادرات اموال تجارتی میتواند خلق کننده فرصت های تجارتی و زمینه ساز برای دسترسی اموال تجارتی به بازار های مختلف جهان باشد، از طرف دیگر تولید کنندگان داخلی را تشویق می نماید تا سطح تولیدات شان را به منظور تقاضای بازار های بین المللی افزایش داده، با افزایش صادرات محصولات تجارتی، میزان تقاضا بیشتر گردیده و مسیر پیشرفت فعالیت های اقتصادی را در عرصه صادرات اموال تجارتی تغییر داده، تولید کننده گان داخلی می توانند با عرضه محصولات صاداراتی شان در بازار های جهانی مفاد بیشتر را از بابت صادرات اموال تجارتی بدست آورند. با توجه به اهمیت و ارزش صادرات، تاثیرات مثبت را در رشد اقتصادی ملی، افزایش عواید، کاهش سطح بیکاری، اشتغالزایی و همچنین افزایش مثبت در توازن بیلانس تجارتی، افزایش صادرات نسبت به اموال وارداتی که نقش عمده را در پیشرفت و انکشاف اقتصادی در سطح کلی کشور دارا می باشد بوجود آورده، سبب




ازدیاد اموال صادراتی و در مقابل افزایش و بدست آوردن اسعار خارجی در معاملات تجارتی کشور گردیده و قدرت خرید و تجارت کشور را در عرصه معاملات بین المللی جهت جلب و جذب مشتریان خارجی، برای اموال تجارتی افغانستان تشویق و تقویت می نماید. موقعیت تاریخی افغانستان در آسیای مرکزی که دارای تاریخ کهن و فرهنگی غنی در راستای جغرافیا و قلمرو مشخص است، این کشور را با ایران در غرب، با پاکستان در جنوب و شرق، ازبکستان، ترکمنستان تاجکستان در شمال و از شمال شرقی با کشور های چین، دارای خطوط مرزی تعین شده بین المللی می باشد وصل نموده است. افغانستان دهیلز تجارت اموال صادراتی و وارداتی شامل شرق، غرب، جنوب آسیا و کشور های جهان می باشد. اقلام عمده صادراتی افغانستان را میوه جات خشک و تازه، محصولات طبیعی طبی، محصولات خوراکی، سبزیجات و صنایع قالین و صنایع دستی تشکل داده، و از شهرت خوب در زمینه طبیعی بودن محصولات تجارتی در جهان بر خور دار است. قالین و گلم یکی از محصولات عمده و مهم صادراتی افغانستان بوده و در زمره اقلام عمده صادراتی افغانستان به حساب می آید، در حال حاضر بزرگترین خریداران اقلام مهم صادراتی قالین و گلیم به شمول کشور های تاجکستان، قزاقستان، هندوستان، عربستان سعودی، امارت متحده عرب، چین و کشور های اروپایی بوده و در طول تاریخ تولیدات افغانی بازار خوبی در مارکیت های ملی و بین المللی داشته است. اموال صادراتی و تجارتی افغانستان به هدف به دست آوردن مفاد در عرصه تقاضای مارکیت های بین المللی و عرضه آن در بازار های جهانی، تجارت را بر اتکای اقلام صادراتی تشویق و از عرضه آن در مارکیت های جهانی بهره مند می سازد. تجارت خارجی میزان صادرات اموال تجارتی را افزایش داده و زمینه را برای سرمایه گذاری در عرصه های مختلف جهت دست یابی به اقلام عمده صادراتی افغانستان مساعد می سازد.

# اعلانات داوطلبی

## د کابل ولایت (۱۵-۱٦) مو ناحیو اړوند د (۳) دولتي ملکیتونو د داوطلبۍ خبرتیا!

۱- د کابل ښاروالۍ (۱٦مـي) ناحیې اړوند بګرامیو نساجي د کارته نو سرتېپې په سیمه کي د تېلو پمپ، چي (٦) د تېلو پایې، حمام او د (۲۹٦٥.٦) متره مربع مساحت په لرلو سره د آزادي ساحې درلودونکی دئ او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱۹٥٦۰۰) افغانۍ ده.
۲- د ستاره شهر هوټل، چي د ودونو (۴) لوی سالونونه، پارکینګ، د ګل سازۍ خوني، د کمرې خوني، د ساتونکو خونه، کانټین، د خوراکي توکو ګودام، د کارکوونکو د خوب خونه، مجهز پخلنځای، د اداري دفتر خوني، چي د ورسره اړوندي ټولي سیمي مساحت ئې (۱۸۲٥۰.۲) متره مربع دئ او د کابل ښاروالۍ (۱٥مي) ناحیې اړوند د هوایي ډګر پر سړک موقعیت لري، د میاشتي ابتدایي کرایه ئې (۷۱۴۸۴۷) افغانۍ کېږي.
۳- ممتاز محل هوټل، چي د ودونو (۴) لوی سالونونه، پارکینګ، د ګل سازۍ خوني، د کمرې خوني، د ساتونکو خونه، کانټین، د خوراکي توکو ګودام، د کارکوونکو د خوب خونه، مجهز پخلنځای، د اداري دفتر خوني او ورسره ضمیمه سوی ټول مساحت ئې (۱۹۲۱۷.٦) متره مربع دئ او د کابل ښاروالۍ (۱٥مي) ناحیې اړوند د هوایي ډګر پر سړک موقعیت لري، د میاشتي ابتدایي کرایه ئې (۷۴۳۴۸۰) افغانۍ ده.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دولتي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (۷/۱۲/۱۴۰۲ څخه تر ۲۸/۱۲/۱۴۰۲) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کي تر لاسه کړي.
د آفرګشایۍ ټاکلي نېټه: د (کب ۲۹مه ۱۴۰۲) د سهار (۱۰) بجې او (۳۰) دقیقې.
ځای: سینما پامیر، ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ٥ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست - د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۹۲٤٦۲۳

## د کابل ښاروالۍ لومړۍ ناحیې اړوند سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ لومړي پوړ کي د (۳) بابه غرفو د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت لومړۍ ناحیې اړوند د سینما پامیر (۱۴) پوړیزي ودانۍ لومړي پوړ کي لاندي ( ۳ ) دولتي ملکیتونه په جلا - جلا ډول داوطلبۍ ته وړاندي کړي.
۱.یو باب (۲٥) مه شمېره غرفه، چي (۴،۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱٥۰۰۰) افغانۍ ده.
۲.یو باب (۲٦) مه شمېره غرفه، چي (۴.۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۰۰۰۰) افغانۍ ده.
۳.یو باب (۲۷) شمېره غرفه، چي (۴.۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۲۰۰۰۰) افغاني ده.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي ذکر سوي غرفې له ټاکل سوي قیمت څخه په لوړه کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (٦/۱۲/۱۴۰۲ څخه تر ۲۱/۱۲/۱۴۰۲) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته و سپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه دي تر لاسه کړي.

## د کابل ښاروالۍ (۱٦) مي ناحیې اړوند د یوه باب هنګر د مزایدې خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ولایت د (۱٦) مي ناحیې اړوند بګرامیو نساجي په داخل کي د شني ساحې په لرلو سره یو باب هنګر، چي ( ۹٦۰.۴) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ کرایه ئې (۳۹۰۰۰) افغانۍ ده، د مزایدې لپاره اعلان ته وړاندي کړي.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي پورتنۍ ملکیت د ذکر سوي قیمت څخه په لوړه کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه له (٥/۱۲/۱۴۰۲ څخه تر ۱۱/۱۲/۱۴۰۲) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د (۲۰۰۰) افغانیو په بدل کي تر لاسه کړي.

## د کابل ولایت (۱٥) مي ناحیې اړوند د خلیج د ودونو هوټل او اورانوس هوټل د پارکینګ د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي لاندي (۲) دولتي ملکیتونه په جلا - جلا ډول د داوطلبۍ لپاره اعلان ته وړاندي کړي.
۱. د کابل ښاروالۍ (۱٥) مي ناحیې اړوند د کابل نړیوال هوائي ډګر پر عمومي سړک د خلیج د ودونو هوټل دواړي برخي یو ځای د (۱۴۰۴٥) متره مربع مساحت په درلودلو سره (۴) لوی د ودونو لپاره سالونونه، د موټرونو لپاره تم ځای، د ګل سازۍ خوني، د کمرې خوني، د ساتونکو خوني، کانټین، د خوارکي توکو ګودام، د کارکوونکو د خوب خوني، له ټولو وسایلو سره عصري پخلنځی، د هوټل په داخل کي یو باب پمپ سټیشن، د اداري دفترونو خوني او یو محراب جومات لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۴٦۸۳۳۳) افغانۍ ده.
۲. د کابل ښاروالۍ (۱٥) مي ناحیې اړوند د کابل نړیوال هوائي ډګر پر عمومي سړک د اورانوس د ودونو هوټل د موټرونو تم ځای، چي (٦٥۰۰،۳) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه ئې (۱٦۴۸٥۱،٥) افغانۍ ده.
ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دولتي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي، چي خپل غوښتنلیکونه د (۷/۱۲/۱۴۰۲ څخه تر ۲۸/۱۲/۱۴۰۲) مي نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کي تر لاسه کړي.
د آفرګشایي ټاکلې نېټه: د (کب ۲۹مه ۱۴۰۲) د سهار (۹) بجې او (۳۰) دقیقې.
ځای: سینما پامیر، ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ٥ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست - د مرکزي ټرونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۲۳

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ويبسايټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# MoF, NExA Ink Examination Agreement

For the aim of recruitment professional persons by MoF, assigning qualified workers, creating complete transparency and justice in the examination process and creating a permanent professional administration, the agreement was signed between MoF and National Examinations Authority (NExA). In this agreement, NExA is to entrust to provide opportunity for all the exams regarding the appointments in different positions of the MoF. After this, with agreement to provide examination in a formal and professional manner, all the exams for appointments in the MoF will be given by NExA in a standard, professional and satisfactory manner.

Noticeably, according to the order of the High Authority of Prime Ministership, all government bodies have to conduct all recruitment-related examinations with the cooperation of the NExA for the sake of transparency and accuracy in the examination process.

# Contrabands Seized in Some Areas of Numerous Provinces During Last Week – MoF's Customs






The intelligent Mobile Surveillance Staff of Kandahar, Herat and Nimroz Customs seized a large amount of contrabands in different areas of the said provinces during the last week, as most of which are medicines for human beings and animals. The seized contrabands include 4,656kg of different types of human medicines; 1,780kg of medicines for the usage of animals, 12 cartons of prohibited drugs/narcotics and 3,700kg of cloths. The smugglers have planned to smuggle the illegal items to the country. The seized smuggling items, most of which were found in some areas of Kandahar province, have been handed over to the relevant customs offices for further investigative processing. IEA makes every kind effort for the aim of preventing illegal and low-quality medicines in the country, in order to halt such illegalities and to provide standard services. Mover ever, that is why the mobile surveillance staff of MoF has always been overcome such illegalities as a result the criminals have been handed over to the relevant bodies.


# Torkham Customs Staff Halts Smuggling of 67kg of Precious, Semi-precious Stones

Staff of General Management of Torkham Customs has prevented the smuggling of three export shipments of 67.2kg of precious and semi-precious stones. The precious and semi-precious stones were very skillfully embedded in the trucks and the smugglers wanted to send them to Pakistan clandestinely. It is worth mentioning that nowadays, all the customs of the country monitor the contrabands and prohibited goods seriously and no one is allowed for exportation and importing of items illegally.






# د افغانستان او پاکستان ترمنځ بندر تر (۵) میاشتو وروسته بیا پرانیستل سو




د چین د شینوا په نوم خبري اژانس د سپين بولدك – چمن د سوداگريز بندر د بیا پرانیستني په اړه د سپين بولدك د گمرك رئيس سفر محمد سحر له خولې راپور خپور کړی دئ، چې وايي تر پنځو مياشتو بند وروسته ياده ترانزيتي لاره بيا پرانيستل سوه. راپور د دې مهم سوداگريز بندر د موټرونو شمېر هم ياد کړی دئ، چې وايي: «مسؤلان زياتوي، چې له دې بندري دروازې څخه به د دواړو طرفونو له خوا (۳۰۰) موټرونه تگ او راتگ کوي.» د سوداگريزو فعاليتونو پر برابر هم يو څه ويل سوي دي او ياد اژانس د مسؤلانو په حواله کاږي، چې د دې دروازې په پرانيستلو سره به دواړي غاړي سوداگريز فعاليتونه ډېر کړي. راپور په وروستۍ برخه کې زياتوي، چې وايي د «سپين بولدك – چمن» لاره د داوړ ملکونو له پاره د ننگرهار تر تورخم بندر وروسته دا دوهمه مهمه سوداگريزه دروازه ده.




اعلان مزایده (۱۱) باب غرفه واقع منزل اول تعمیر (۱۴) منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شاروالی کابل!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه به تعداد(۱۱) باب غرفه به مساحت های مختلف واقع منزل اول تعمیر(١٤) منزله سینما پامیر مربوط ناحیه اول شاروالی کابل از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سر بسته طور جداگانه به مزایده می سپارد.

| شماره | نام جایداد | موقیعت جایداد | ناحیه مربوطه | کرایه ابتدائی ماهوار |
|---|---|---|---|---|
| 1 | یکباب غرفه نمبر19بمساحت4.06 مترمربع | منزل اول تعمیر 14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(9120) افغانی |
| 2 | یکباب غرفه نمبر 29 بمساحت4.2 مترمربع | منزل اول تعمیر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(22500) افغانی |
| 3 | یکباب هوتل بنام غرفه نمبر 5 بمساحت69.04 مترمربع | منزل اول تعمیر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(133100) افغانی |
| 4 | یکباب غرفه نمبر15بمساحت6.46 مترمربع | منزل اول تعیمر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(20500) افغانی |
| 5 | یکباب غرفه نمبر16بمساحت4.43 مترمربع | منزل اول تعمیر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(16000) افغانی |
| 6 | یکباب غرفه 18 بمساحت11.61 مترمربع | منزل اول تعمیر 14 منزله سینای پامیر | اول | مبلغ(9500) افغانی |
| 7 | یکباب غرفه نمبر17بمساحت4.43 مترمربع | منزل اول تعمیر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(8650) افغانی |
| 8 | یکباب غرفه نمبر20بمساحت5.86 | منزل اول تعمیر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(22000) افغانی |
| 9 | یکباب غرفه نمبر10بمساحت9.25 مترمربع | منزل اول تعمیر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(22100) افغانی |
| 10 | یکباب غرفه نمبر11بمساحت9.43 مترمربع | منزل اول تعمیر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ(18600) افغانی |
| 11 | یکباب غرفه نمبر9 بمساحت4.70 مترمربع | منزل اول تعیمر14 منزله سینمای پامیر | اول | مبلغ( 25200 ) افغانی |

اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های متذکره بالاتر از مبلغ ذکر شده باشند میتوانند در خواست های شان را از تاریخ (۵/۱۲/۱٤۰۲الی تاریخ ۲۰/۱۲/۱٤۰۲) به ریاست عمومی املاک دولتی واقع منزل چهارم تعمیر(١٤) منزله سینمای پامیر تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هيواد له ليکوالو څخه هيله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښناليک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.